# وبائي مرضونه او

# اسلام

25-March-2021

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# وبائي مرضونه او اسلام

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مسلمان چې تر څو پورې په ما باندې دُرُود شريف وائي، فرښتے په هغه باندې رحمتونه ليږي، اوس د بنده خوښه ده چې كم وائي او كه زيات. (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...ضيائے دُرودُوسلام ، صفحه:2۔

# د بيان اوريدو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّۃُ الصَّادِقَۃُ** (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

اے **عاشقانِ رَسُول**! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:
نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې] كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اويا زره مړي ژوندي شو

**واسَط** د عراق ښار دے، هلته داوَردان نومې يوه علاقه وه: ډيره ښخوانئ خبره ده، په دغه علاقه كښې يو ځل د طاعون وَبا خوره شوه، ډير زيات خلق مړه كيدل شروع شُو، ډير خوفناك صورتحال پيدا شو، هر يو د مرګ په ويره كښې اخته شو، د يو قول مطابق اويا زره خلقو د مرګ د ويرې نه خپلې بسترے اُوتړلې، د خوراك څښاك سامانونه ئې ځان سره واخستل او د علاقے نه اُووتل غرونو ته لاړل، **الله** پاك ته د هغوئي دا عمل خوښ نه شو، د **الله** په حكم يوے فرښتے په هغوئي غږ اوكړو: **مُوْتُوا** ټول مړه شئ!

---

[1]... جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

چې دا آواز ئې څنګه واوريدلو نو اويا زره کسان تږول بغير څه د مرض نه يو دَم هلاك شو، اته ورځو پورې دغه مړي دغه شان پراته وو اوپړسيدل او اوچاودل او هر طرف ته ګنده بوئي خور شو، خواو شا خلق د بد بوئي نه پريشانه شو هغوئي ورغلل او مړي خخول ئې غوښتل خو دومره زيات مړي خخول ډير ګران کار وو. هغوئي د مړو نه چار چاپيره اوچت ديوال راتاو کړو، دغه شان ډيره موده تيره شوه، مړي وراسته شو اوريژيدل، هډوکي ئې خواره واره شو، بيا يوه ورځ د **الله** پاك يو نبـي حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام په هغه ځائے تيريدلو.

حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ته **ذُوالۡکِفۡل** هم وائي، حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام د حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام دريم خليفه دے. حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام چې كله دومره ډير زيات هډوکي خواره واره اوليدل نو ډير پريشانه شو، زړه ئې غمګين شو او په سترګو كښې ئې اوښکې راغلې او د غم په دې کيفيت كښې ئې د **الله** پاك په بارګاه كښې عرض اوکړو: اِلٰهی! دوئي ژوندي کړې.

**اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام د **الله** پاک په بارګاه کښې دومره اوچت شان او مرتبه لري چې د دوئي په خواهش **الله** پاك خپل قانون بدلوي، د **الله** پاك قانون دے چې مړي به د قيامت نه مخکښې نه ژوندي کيږي خو قربان شم! حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام د يو دوو نه بلکه د اويا زره مړو د قيامت نه مخکښې د ژوندي کولو خواهش اوکړو نو **الله** پاك وحي را اوليږله، اوئې فرمائيل: اے **حِزْقِيْل** دوئي ته غږ اوکړه...!!

**سُبۡحٰنَ الله!** ژوندي کول او مړه کول د **الله** پاك صِفَت دے، **الله** پاك د **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام د آواز نه بغير هُم هغه اويا زره مړي ژوندي كولے شو، د حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام خواهش به دغسې هُم پورا شوے وے خو دا ئې ښودل چې **الله** پاك د خپلو ګرانو او خوږو بندګانو په ژبه کښې داسې تاثير ايښودے دے، چې د هغوئي په فرمائيلو مړي

ژوندي کيږي. مولانا رُوم رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه فرمائي:

**گُفْتَهٔ اُوْ گُفْتَهٔ اَللهِ بَوَدْ | گَرْچِه اَزْ حُلْقُوْمِ عَبْدُاللهِ بَوَدْ**

**ترجمه:** د محبوبو بندګانو فرمان، فرمانِ اِلٰهي وي، اګرچې هغه الفاظ د بنده په ژبه ادا کيږي.

د **الله** پاك حکم ميلاؤ شو، حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام خواره شوو هډوکو ته غږ اوکړو: اے هډوکو! د **الله** پاك په حکم راجمع شئ! د **الله** پاک د نبـي عَلَيۡهِ السَّلَام په حکم اوريدلو ټول هډوکي د خپلو خپلو بدنونو سره په ترتيب پيوند شو، ډانچے تيارې شوے، حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام بيا حکم ورکړو: د **الله** پاک په حکم غوښه او څرمن واغوندئ! ټولو ډانچو ته غوښه او څرمن ورواغوستے شوه، بدنونه تيار شو. حضرت **حِزْقِيْل** عَلَيۡهِ السَّلَام اوفرمائيل: د **الله** پاك په حکم ژوندي شئ! دا ئې چې اُووئيل نو اويا زره مړي ژوندي شو او د **الله** پاك حَمۡد و ثناء بيانول ئې شروع کړل. بيا هغه خلق بيرته خپلې علاقے ته راغلل او ډيره موده ژوندي وو، د هغوئي اولاد هُم اوشو. د مړو ژوندي کيدو دا عجيبه واقعه په دويمه سيپاره، **سُوْرَۃُ الْبَقَرَہ** آيت نمبر243 کښې بيان شوي ده، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| **اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ هُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۪ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ** (پارہ2،سورۃالبقرۃ:243) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: اے محبوب! آيا تا نه وو ليدلي هغوئي کوم چې د خپلو کورونو نه وتلي وو او هغوئي په زرګاؤ وو د مرګ د ويرې نه، نو الله هغوئي ته اوفرمائيل: مړه شئ بيا ئې ژوندي کړل. |

## د وباء نه تښتيدل څنګه دي.....؟

خوږو او **محترمو اسلامي ورونړو!** ژوند او مرګ د **الله** پاک په لاس کښې دے، که يو

ځائے کښې وباء خوره شي، طاعون راشي نو د هغې د ويرې تښتيدل د عقل خلاف دي او **الله** پاك ئې هم نه خوښوي. د طاعون د ويرې نه تښتيدلو ته علمائے کرامو ګناهِ کبيره وئيلې ده او هُم دا حُکم د طاعُون نه علاوه د نورو وباګانو مثلاً د کُرُونا (*Corona*)وغيره هم دے.[1] خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د طاعون نه تښتيدلو والا داسې دے لکه د کافرو په مُقابَله کښې ميدان پريښودلو والا او تښتيدونکے.[2]

او د کافرو په مُقابَله کښې ميدان پريښودلو او تښتيدلو اوالا څنګه دے، د دې په باره کښې په نهمه سيپاره، **سورۂ انفال**، آيت نمبر **16** کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| **فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ مَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَ بِئْسَ الْمَصِيْرُ﴿۱۶﴾**<br>(پاره9،سورةالانفال:16) | **مفهوم ترجمه کنزالايمان:** نو هغه د **الله** په غضب کښې را اُوګرځيدو او د هغه ځائے دوزخ دے او ډير بد ځائے دے د ورګرځيدلو. |

# د مرګ نه څوک نه شي خلاصيدے

**اے عاشقانِ رسول!** مرګ څه داسې څيز نه دے چې ګنې په تښتيه يا چرته پټيدو به ترينه څوک خلاص شي، مرګ خو هر ځائے راتلے شي، په دُنيا کښې داسې يو مقام نشته چې څوک به ترينه هلته پټ شي او د مرګ نه به بچ شي، نو چې مُعامَله داسې ده نو بيا خو د وباګانو نه تښتيدل عقلمندي نه ده بلکه بے وقوفي ده، په اته ويشتمه سيپاره، **سورۂ جُمُعه**، آيت نمبر**8** کښې ارشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| **اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْكُمْ**<br>(پاره28،سورةالجمعه:8) | **مفهوم ترجمه کنزالايمان:** هغه مرګ چې تاسو ترينه تښتئ هغه به تاسو له ضرور راځي۔ |

---

[1] ...اشعةُ اللَّمْعَات، کتاب:جنائز، جلد:1، صفحه:638۔

[2] ...مسند امام احمد، جلد:10، صفحه:146، حديث:25262۔

**اے عاشقانِ رسول!** د قرآني آيتونو او احاديثو نه معلومه شوه چې د مرګ نه خلاصے نشته، لِـهذا که څه وباء راشي، که طاعون راشي، که کُرُونا راشي نو احتياطي تدابير اختيارول، SOPs (ايس او پيز) باندې عمل کول په خپل ځائے صحيح دي البته د وباء نه داسې ويريدل چې بنده د کوره نه را اُوځي، پريشانه کيدل، علاقه پريښودل او د تښتيدلو کوشش کول د يو مسلمان د عقيدے هم خلاف دي او د عقل هم خلاف دي.

## د وباګانو مُتَعَلِّق اسلامي تعليمات

په انسانانو کښې چې څومره بيمارئ دي، بنيادي طور د هغې درې قِسمونه دي:

(1) هغه بيمارئ کومې چې زمونږ په بدن کښې پيدا کيږي او زمونږ پورې محدوده وي مثلاً ميعادي تبه، مليريا، شوګر، د زړه مرضونه وغيره.

(2) دويم قِسم بيمارئ هغه دي کومو ته اِنجِيکټيو (*Injective*) بيمارئ وئيل کيږي، داسې مرضونه عام طور زمونږ په بدن کښې نه پيدا کيږی بلکه د بل ځائے نه د هغې جراثيم مونږ ته را اورسي البته د دغه جراثيمو په ذريعه هوا نه ګنده کيږي، او دغه مرضونه د يو نه بل ته د وينې په ذريعه خوريږي، مثلاً تور زِيَړے او زِيَړ زِيړے او ايډز وغيره.

(3) دريم قِسم بيمارئ هغه دي چې وبائي مرضونه وائي، دا په اصل کښې جراثيم (Germs) وي چې په هوا کښې خواره شي، بيا په هغه هوا کښې ساه اخستونکي هر کس ته دا مرضونه لګيدے شي، طاعون او کُرُونا وائرس د دې واضحه مثالونه دي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مرضونه که هر څنګه وي، که هغه په انساني بدن

کښې پيدا کيږي او د بدنه پورې محدوده وي، که د وِينې په ذريعه منقل کيدو والا وي، او که وبائي مرضونه وي، د دې په باره کښې دوه خبرې هميشه يادې ساتئ! **نمبر1**: يو مرض هُم پخپله د يو نه بل په اَلوَتلو نه شي لګيدلے او نه په خپله اراده د انسان د بيمارولو صلاحيت لري. **نمبر2**: جراثيم (*Germs*)پخپله مرض نه دے، دا خو د **الله** پاك يو وړوکے مخلوق دے، جراثيم د انساني صحت د پاره فائده مند هم دي او بعضې جراثيم د مرضونو سبب هم جوړيږي، دا جراثيم د لاسونو په ذريعه، د ساه په ذريعه، په ګنده هوا کښې د ساه اخستلو په ذريعه د يو نه بل ته رسيدل عامه خبره ده خو زمونږ دا عقيده ده چې جراثيم صرف هغه ته رسي د چا په باره کښې چې **الله** پاك اوغواړی او که چا ته اولګي نو اثر هم د **الله** پاك په حکم کوي، په جراثيمو کښې پخپله د لګيدلو او په خپله اراده د لګيدلو او د انسان د بيمار کولو صلاحيت نشته.

زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکاره فرمان مبارك دے: **لَا عَدْوٰى** يعني يوه بيماري هُم د يو نه بل ته په اَلوَتلو نه لګي، عرض اوکړے شو: يارَسُولَ الله! مونږه وينو چې زمونږه اوښان ښه صحت مند وي، بيا دوئي سره يو د خارښت د بيمارئ والا اوښ يو ځائے شي نو په ټولو خارښت اولګي، ارشاد ئې اوفرمائيلو: **فَمَنْ اَعْدَى الْاَوَّلَ** يعني که داسې خبره وي نو وړومبي اوښ ته د کوم ځائے نه خارښت لګيدلے وو؟[1]

يعنې چې کله وړومبي ته بيماري د **الله** پاك په اراده او حکم لګيدلي ده نو باقي اوښانو ته هم د **الله** پاك په حکم او اراده لګيدلي ده، په دُنيا کښې يو مرض هُم داسې نشته چې په خپل ځان کښې پخپله ذاتي اثر لري، انسان چې اشرفُ المخلوقات دے هغه د خپلې هرې ارادے پورا کولو صلاحيت نه لري نو جراثيم به په خپله اِراده

---

[1]…بخاری، کتاب: طِبّ، بابُ لَا صَفَر، صفحه:1447، حدیث:5717خلاصةً۔

څنګه اثر اوکړي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۹﴾ (پارہ30،سورۃالتکویر:29) | مفہوم ترجمہ کنزالایمان: او تاسو به څه اوغواړئ [يعني څه به اوکړئ] خو څه چې اوغواړي **الله**، چې د ټول جهان رب دے۔ |

هر کس مالداريدل غواړي، نو آيا هر يو مالدار شی؟ بلکه هر يو نه مالداريږي، بس صرف هغه مالداريږي څوک چې **الله** پاک مالداره کول غواړي، څوك دے چې هميشه په دُنيا کښې د اوسيدلو خواهش نه لري؟ آيا څوك هميشه په دې دُنيا کښې اوسيدے شي؟ نه شي اوسيدلے، که زړه ئې نه غواړي نو بيا هُم ترينه عزرائيل عَلَيْهِ السَّلام رُوح اخلي، د دُنيا نه تلل او قبر ته کوزيدل اټل دي.

نو چې انسان په دې دُنيا کښې د خپلې خوښې پوره مالِك نه دے نو بيا په دې واړو واړو جراثيمو کښې په خپله اراده او په خپله خوښه د بيمارولو صلاحيت څنګه کيدے شي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ مسلمانان يو، زمونږ اِيمان دے چې **الله** پاك په اعمالو کښې انسان ته اختيار ضرور ورکړے دے خو د کائنات په نظام کښې د انسان اختيار نشته، دا دُنيا د **الله** پاك په اراده او خوښه روانه ده، مونږه د لارې انتخاب اوکړو خو په هغه لاره د تللو، او منزل ته د رسيدلو طاقت **الله** پاك ورکوي، مونږ ته کومه بيماري لګي او که نه لګي، دا د **الله** پاك په اراده موقوف دي، دوائي خوړل او نه خوړل زمونږ په اختيار کښې دي خو هغه دوائي د شِفا ذريعه جوړول د **الله** پاك په قبضه او اختيار کښې دي، د **الله** پاك خليل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د کافرانو په مخکښې د توحيد اعلان اوکړو او هغوئي ته ئې د **الله** پاك پيژندګلو داسې بيان کړه: زما ربّ چې زه ئې عبادت کووم هغه دے چې

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿۸۰﴾ (پاره19،سورة الشعراء:80) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: او چې کله زه بيمار شم نو هم هغه ما ته شِفا راکوي. |

ماشآءالله! د کلام حُسن او ښائست اوګورئ! اوګورئ بيماري هم د **الله** له طرفه ده او شِفا هم **الله** پاك ورکوي خو د بيمارئ په راتلو کښې نقصان وي، ځکه حضرت اِبراهِيم عَلَيۡهِ السَّلَام د ادب په وجه عرض اوکړو: **وَ اِذَا مَرِضْتُ** او چې کله زه بيمار شم. يعنې حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د بيماريدو نِسبَت خپل ځان طرف ته اوکړو او په شِفا کښې رحمت او خير وي، ځکه ئې د شِفا نِسبَت **الله** پاك ته اوکړو او اوئې فرمائيل: **فَهُوَ يَشْفِيْنِ** نو هم هغه ما ته شِفا راکوي.

امام رازي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په تفسيرِ کبير کښې يو ښکلے حکايت ليکلے دے، فرمائي: يو ځل د حضرت موسٰی کليمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام په خيټه مبارکه درد راغلو، که په مونږه درد راشي نو ډاکټر له ځو خو د حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام د شان او عظمت به څه وائې! هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام باندې چې درد راغے نو کوهِ طور ته حاضر شو، د **الله** پاك په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: مولٰی! په خيټه مې درد دے. ارشاد اوشو: اے موسٰی! د ځنګل فلانکے بُوټے اوخورئ. حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام ځنګل ته لاړلو، او هغه بُوټے ئې حاصل کړو او اوئې خوړلو او درد ئې ښه شو. څه موده پس ئې بيا په خيټه مبارکه درد شو، دا ځل حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام ته علاج معلوم وو، ځنګل ته لاړلو او هم هغه بُوټے ئې اُوخوړلو خو د خُدائے قدرت چې دا ځل ئې بد اثر اوکړو، وړومبے ځل ورسره درد ښه شوے وو، او دا ځل نور زيات شو. حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام ډير حيران شو او بيا کوهِ طور ته حاضر شو، د **الله** پاك په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: مولٰی! په مُعامَله پوهه نه شوم، وړومبے ځل مې چې هغه بُوټے خوړلے وو نو ورسره ښه شوے ووم، او دا ځل مې

چې اوخوړو نو درد مې نور زيات شو، دا څه مُعامَله ده؟ ارشاد اوشو: اے موسٰی! وړومبے ځل ته زما په حکم تلے وے نو شِفاء دِ نصيب شوه، او دا ځل په خپله خوښه تلے وے نو درد دِ زيات شو، اے موسٰی! آيا تا ته نه ده معلومه.. چې؟ بيشکه د دُنيا هر يو څيز زَهرِ قاتِل دے، خو زما نوم دے چې شِفاء ترينه جوړوي.[1]

**سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول!** معلومه شوه چې مرض راتلل هم د **الله** له طرفه دي، او شِفا نصيب کيدل هم د **الله** پاك له طرفه دي، که وباء خوره شي او که مرضونه راشي خو هيڅ کله هم خپله عقيده مه کمزوري کوئ! اِيمان پوخ لرئ. او! احتياطي تدابير اختيارول، *SOPs* (*Standard Operating Procedure*)[ايس اُو پيز] باندې عمل کول بهرحال لازمي دي چې احتياط کول هم د **الله** پاك او د هغه حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښودلي دي.

## په کُرُونا وائرس باندې عوامي رَدِّ عمل

اوس چې کله د کُرُونا وائرس سخت طوفان راغلے وو او تقريباً په ټوله دُنيا کښې خور شوے وو، په اخبارونو کښې، په ټـي وي باندې، په سوشل ميډيا باندې، تر دې چې د هر يو کس په ژبه د کُرُونا خبرې عامې وے. هر طرف ته ويره خوره وه، اوس هم په ډيرو ملکونو کښې د دې اثرات موجود دي، د کُرُونا په مُعامَله کښې دوه قِسمه سوچ لرونکي خلق وو:

(1) بعضې خو ډير زيات ويريدلي وو او ځانونه ئې په کور کښې قيد کړي وو، د هغوئي مطابق خو شايد چې دا د دُنيا ختميدل وو، هغوئي دا ګڼړله چې کُرُونا به انسانان

---

[1]...تفسير کبير، جلد:1، صفحه:152۔

د دُنيا نه ختم کړي. (2) د دې برخلاف يو شمير خلق داسې هم وو، چې هغوئي وئيل ورورہ هيڅ کُرُونا مرونا نشته، په الله تَـوَکُّل کول پکار دي، لاس ميلاؤ کولو، او بغير ماسکه ګرځيدلو سره هيڅ نه کيږي، د ډاکټرانو په ښودلو شوو احتياطونو باندې د عمل کولو هيڅ حاجت نشته، بعضې ناپوهه خلقو خو په حکومتونو او ډاکټرانو باندې اِلزام لګولو او **مَعَاذَ الله** ځان ئې ګنهګارولو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا دواړه اندازه غلط دي، وړومبئ خبره خو دا ياده لرئ چې هِمَّت بيلل او نفسياتي طور ويريدل خو پخپله يو مرض دے، زمونږ د خوږ دِينِ اسلام دا خاصيت دے چې اسلام مونږ ته حوصله راکوي او د آخرئ ساه پورې مونږ ته هِمَّت راکوي، دا د اسلام مزاج دے، اسلام مونږ ته ويريدل نه بلکه د حالاتو مُقابَله کول زده کوي. اسلام مونږ ته ژوند تيرول زده کوي، د اسلام په ډيرو تعليماتو کښې صرف يو تعليم ”تقدير“ ته اوګورئ، **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَاۤ اَصَابَ مِنْ مُّصِیْبَةٍ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَاؕ (پاره27،سورة الحديد:22) | **مفهوم ترجمه کنزالايمان:** نه رسيږي يو مصيبت په زمکه کښې او نه ستاسو په ځانونو کښې خو هغه په يو کتاب کښې دي، مخکښې د دې نه چې مونږه هغه پيدا کړو. |

دا تقدير دے چې په دُنيا کښې د انسان سره څه کيدلو والا وو او انسان څه څه کولو والا وو، **الله** پاك ته دا هر څه په خپل عِلمِ حقيقي باندې معلوم وو نو په تقدير کښې ئې اوليکل، په دې تقدير باندې د اِيمان لرلو فائده څه ده؟ په را روان آيت کښې ئې د دې حکمت بيان کړے دے، فرمائي:

| | |
|---|---|
| لِّكَیْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَ لَا | **مفهوم ترجمه کنزالايمان:** ځکه په هغې پسې غم مه کوئ څه چې د لاسه لاړ شي او په هغې مه |

| | |
|---|---|
| تَفۡرَحُوۡا بِمَاۤ اٰتٰىكُمۡ ؕ<br>(پاره27،سورة الحديد:23) | خوشحالیږئ څه چې ئې تاسو ته درکړې دي. |

يعنې اے انسانانو! تاسو ته چې څه ميلاويږي، د **اللّٰه** پاک له طرف ميلاويږي، په هغې باندې تَڪَبُّر کول د عقل خلاف دي، پڪار ده چې بنده په نِعمَت ميلاويدو باندې شُکر ادا کړي او کوم مصيبتونه، پريشانئ، بيمارئ چې راځي هغه هم د **اللّٰه** پاك په حڪم، د تقدير د ليك مطابق راځي، چې مُعامَله داسې ده، نو پريشانه کيدل، ويريدل، هِمَّت بيلل، ژړا غوغا کول، او شور شغرب کول يو علقمند سره ښه نه ښائي، بنده له پڪار دي چې هر څومره مشکل راشي، هِمَّت دِ نه بيلي، حوصله دِ کوي او د **اللّٰه** پاك د رحمت اُمِّيد دِ ساتي.

د دې سره سره دِ دا هم ياد ساتي چې د هِمَّت او حوصلے مطلب دا نه دے چې انسان دِ ځان مرګ ته حواله کړي، اسلام هيڅ کله د دې اجازت نه ورکوي، **اللّٰه** پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تُلۡقُوۡا بِاَيۡدِيۡكُمۡ اِلَى التَّهۡلُكَةِ ۚ (پاره2،سورة البقرة:195) | مفهوم ترجمه کنزالايمان: او په خپلو لاسو ځان په هلاکت کښې مه اچوَئ. |

اسلام صراطِ مُستقيم دے، اسلام مونږ ته په درميانه لاره د تللو حُڪم راکوي، نه خو مونږ له هِمَّت بيلل او نه مايوسه کيدل پڪار دي، او نه په زياته خود اعتمادئ کښې د اخته کيدلو په سبب ځان په مصيبت کښې اچول پڪار دي، زمونږه دا بدن، او ځان د **اللّٰه** پاك امانت دے، د دې حفاظت کول په مونږه لازم دي، بچپله خپل ځان هلاکت ته پيش کول، احتياطي تدابير نه اختيارول، د اسبابو پرواه نه کول په حقيقت کښې تَـوَکُّل نه دے بلکه د **اللّٰه** پاك نافرماني ده.

دا دُنيا دارُالاَسباب ده، **الله** پاك په خپل كامِل حِكمت د هر څيز اسباب پيدا كړي دي او د كارونو پوره كول ئې د دې اسبابو سره تړلي دي، كه څوک په اور كښې لاس كيږدي نو لاس به ئې سوزي، د اوبو څښلو سره تنده ختميږي، طعام خوړلو سره لوږه ختميږي، هر څيز په دې دُنيا كښې په اسبابو روان دے، څوك چې دا اسباب پريږدي هغه تَـوَكُّل نه اختياروي بلكه د **الله** پاك د كامِل حِكمت انكار كوي. تَـوَكُّل بهروسے [يقين] ته وائي او بهروسه [يقين ساتل] د زړه يو كيفيت دے، په ظاهره اسباب اختيارول او په زړه كښې د اسبابو په ځائے په **الله** پاک باندې بهروسه [يقين] ساتل، دا اصل تَـوَكُّل دے. څوک چې اسباب پريږدي، هغه تَـوَكُّل نه كوي بلكه **مَعَاذَ الله**! د **الله** پاك د حكمتِ كامِله خلاف كوي.

حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام څنګه تَـوَكُّل كوونكے وو؟ په ټول ژوند كښې ئې ځان له كور نه وو جوړ كړے، يوه پياله د څښلو به ورسره وه، يو وخت داسې هم راغے چې هغه ئې هم پريښوده او په چونګ به ئې اوبه څښلې، څنګه د كمال تَـوَكُّل وو؟ يو ځل شيطان د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام خوا ته راغے، او اوئې وئيل: اے عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام! تاسو په **الله** پاك تَـوَكُّل ساتئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: آو بالكل ئې ساتم. شيطان اُووئيل: كه داسې وي نو تاسو **مخامخ** غر ته اوخيژئ او را ټوب كړئ، ګورو چې ستاسو **ربّ** تاسو بچ كوي كه نه. هغوئي اوفرمائيل: اے مردوده! زه په **الله** پاك باندې تَوَكُّل بهروسه [يقين ضرور] كووم خو د هغه امتحان نه اخلم. (1)

**الله! الله!** معلومه شوه څوك چې احتياطي تدابير نه اختياروي او خپل ځان په هلاكت كښې اچوي، دا تَـوَكُّل نه كوي بلكه مَعَاذَ الله! د **الله** پاك امتحان اخلي. د الله

---

[1] ...فتاوىٰ رضويه، جلد:24، صفحه:267خلاصةً۔

پناه! د الله پناه!

د جَنَّتي صحابي حضرت اُسامه بِن زَيد رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روايت دے چې د **الله** پاك خوږ نبـي خَاتَمُ الانبياء صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: طاعون يو عذاب وو چې په بنـي اِسرائيلو راغلے وو، چې كله تاسو واورئ چې په فلانكي ځائے كښې طاعون خور شوے دے نو هلته مه ځئ او په كوم ځائے كښې چې تاسو موجود ئې او هلته طاعون خور شي نو د هغه ځائے نه مه اوځئ. (1)

د دې حديثِ پاك لاندې مشهور مُفسّرِ قرآن حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: طاعون يوه بلاء ده [يعنې مصيبت دے] او بلاء ته پخپله نه دي تلل پكار او چې كله راشي نو ويريدل ترينه نه دي پكار. امامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څنګه چې د طاعون نه تښتيدل حرام دي، دغه شان هلته (يعنې د طاعون ځائے ته) تلل هم ناجائزه او ګناه ده، په احاديثو كښې د دواړو نه منع راغلي ده، طاعون والا ځائے نه تښتيدل د **الله** د تقدير نه تښتيدل دي او طاعون والا ځائے ته تلل د **الله** پاک د بلاء سره مُقابَله كول دي او داسې كار كولو ته تَـوَكُّل وئيل صرف بے وقوفي او جهالت دے. (2)

بهرحال! كه وباء راشي، كه آفتونه راشي خو مونږ له خپله عقيده مضبوطه ساتل پكار ده، او ورسره احتياطي تدابير هم اختيارول پكار دي.

## وباء او آفتونه ولې راځي؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په دُنيا كښې د وباګانو خوريدلو او آفتونه راتلو ډير

[1]...بخاری، کتاب: انبیاء، صفحه:892، حدیث:3473۔

[2]...فتاوی رضویه، جلد:24، صفحه:308بتغیر۔

حکمتونه دي، ډېر ځله د آفتونو او مصيبتونو په ذريعه د بندګانو امتحان اخستلے کيږی چې څوك صبر کوي او څوك بے صبري کوي، څوك د **اللّٰه** پاك په قدرت او حِکمت باندې يقين ساتي او څوك د خپل ناقِص عقل پيروي کوي او ګمراه کيږي.

بعضې وخت د آفتونو او مصيبتونو په ذريعه د بندګانو درجات اوچتيږی، بعضې وخت آفتونه د مومِن بنده په حق کښې د رحمت ذريعه وي، صدرُ الشريعه، حضرت علامه مولانا مفتی محمد اَمجَد علی اَعظَمی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: بيماري هم يو ډېر لوئي نِعمَت دے، د دې فائدے ډېرې زياتې دي، اګرچې په ظاهره انسان ته د دې نه تڪليف رسي خو په حقيقت کښې د آرام او راحت يوه لويه ذخيره په لاس ورځي، دا ظاهري بيماري کومه چې انسان بيماري ګڼري، په حقيقت کښې د روحاني بيمارو يو لوئي علاج دے، حقيقي بيمارئ خو روحاني مرضونه (مَثَلاً د دُنيا محبت، د دولت حِرص، بُخل او د زړه سختي وغيره) دي، چې البته دا خوفناک څيزونه دي او دا هلاك کوونڪي بيمارئ ګڼرل پڪار دي.[1] په حديثِ پاك کښې دي: بيشکه **اللّٰه** پاك خپل بنده په بيمارئ کښې اخته کوي، اخته کوي تر دې چې د هغه ټول ګناهونه وران [يعني معاف] کړي.[2] د حضرت ابوهُريره رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ نه روايت دے چې خوږ آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې يوه شپه په تبه کښې مُبتلا شي او په هغې صبر اوکړي او د **اللّٰه** پاك نه راضي اوسي نو د خپلو ګناهونو نه داسې اوځي لکه په هغه ورځ چې وو کله چې د مور نه پيدا شو.[3]

یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر		یہ مرض تیرے گناہوں کو مٹاجاتا ہے

---

[1] ...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:799، حصه:4۔

[2] ...مستدرک، کتابُ الجنائِز، صفحه:669، حديث:1326۔

[3] ...شُعَبُ الْاِیْمان، صفحه:167، حديث:9868۔

اَصْل بر بادکن امراض گناہوں کے ہیں | بھائی! کیوں اس کو فراموش کیا جاتا ہے؟

که ته بيمار ئې هيڅ تشويش مه کوه | دا مرض ختموي ستا گناهونه

اصل تباه کوونکے مرض د گناه دے | وروره ته ولې هيروے خپل گناهونه

وباګاني خاص طور طاعون خو د دې اُمَّت په حق کښې د رحمت ذريعه قرار کړے شوے دے. د **مُعْجَم اَوْسَط** روايت دے؟ رَسُولِ اَکرَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: طاعون زما د اُمَّت د پاره شَهَادت دے، دا يوه غُوټه ده چې په ترَخُونو او نرمو ځائيونو کښې راخيژي، څوك چې د دې وباء نه مړ شي هغه شهيد دے او څوك چې د طاعون په ورځو کښې د صبر سره حصار اوسي هغه د **اللّٰه** په لار کښې د اسلامي سرحد د حِفاظت کوونکي په شان دے. **(1)**

د وباګانو او آفتونو راتلو يو حکمت بندګانو ته د هغوئي حيثيت وريادول هم دي، چې کله انسان د خپل حد نه بَهَر شي، تَکَبُّر کوي، **مَعَاذَ الله**! د خپل عمل يا وينا په ذريعه د **اللّٰه** پاك قدرت ته چيلنج کوي نو **اللّٰه** پاک ئې په ناڅاپه آفتونو کښې اخته کړي او هغه ته د هغه حيثيت ورياد کړي، اوس نزدے اوګورئ! ټيکنالوجي څومره په ترقئ ده، سپوږمئ ته د رسيدلو خبرې بلکه اوس خو مريخ ته د ختلو خبرې هُم عامې دي، سائنس پخپله خو ښه علم دے خو د بعضو نادانو انسانانو يو تعداد دے چې هغوئي د سائنس په بنياد د **اللّٰه** پاك دِين ته چيلنج کوي، د **اللّٰه** پاك حکمونو ته د پخوانو زړو قِصو په نظر ګوري، مَعَاذَ الله! داسې بے وقوفه خلق هُم شته چې د سائنس په بُنياد د **اللّٰه** پاك انکار کوي، خپل عارضي، فاني او د آلاتو محتاجه طاقت ته اوګوري او په غرور او تَکَبُّر کښې د حده تير شي او څوك چې **اللّٰه** پاك منې په هغوئي کښې هم يو

---

[1] ...**معجم اوسط، جلد**:4، **صفحه**:150، **حديث**:5531۔

شمير خلق داسې دي چې هغوئي د جِدَّت، فيشن، او ترقئ په نوم که په خُله نه وائي نو د خپل عمل په ذريعه د **الله** پاك د دِين حکمونه **مَعَاذَ** الله شاته غورزوي، بعضې بے وقوفه په قرآني آيتونو او احاديثو پورې خندا کوي، خو شايد دوئي خپل غُرُور او تَکَبُّر د دې پوځې نه ړانده کړي دي چې د دې کائنات نظام چلوونکے **اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ** دے نو په دې حالاتو کښې چې دُنيا په هُم دې غرور او تَکَبُّر کښې مسته پرته وه **الله** پاك يو کُرُونا وائرس را اوليږلو، چې هغه دومره وړوکے دے چې په سترګو نه ليدل کيږي، د يو تحقيق مطابق په پورا دُنيا کښې چې څومره کُرُونا خوره شوي ده که هغه ټول وائرس راجمع کړے شي نو د دوو قاشوغو چينئ همره به وي، دومره لږ شان کُرُونا د ټولې دُنيا نِظام درهم برهم کړو، د يو وخته پورې ئې ټوله دُنيا اودروله، لاك ډاؤن اوشو، ډاکټران په علاج کولو کښې ناکامه شو، کُرُونا حصارول، دا په کنټرول کښې راوستل مشکل شو، سائنس ډير حيرانه پاتې شو او هيڅ ئې اونکړے شو، دا د انسان حيثيت دے، **الله** پاك داسې آفتونه راليږي او ښائي چې

څوك خو شته دے چې نظامِ هستي چلوي، او هغه **الله** دے

هيڅ څوك نشته د هغه په مقابله کښې سر اوچتولو والا- د **الله** پاك برابر طاقت او عِزَّت والا هيڅ څوک نشته، نمرود بدبخته د خُدائي دعوٰی کړي وه، هغه سرکشه بادشاه د **الله** پاک سره جنګ کولو د پاره ځان سره په زرګاؤ فوج روان کړو او اُووَتو، **الله** پاك د خپلو عظيمو لښکرو نه يو وړوکے لښکر را اوليږو، د ماشو لښکر، ماشو د هغه په زرګاؤ فوج باندې حمله اوکړه، غشي او تُورې ئې هيڅ په کار رانغلې، د هغه فوجيان پړمخ راغوزار شو، ماشو د هغوئي بدنونه اوخوړل، هډوکي ئې خالي شو، دا دے د انسان حال او کمزوري....!! د **الله** پاك ورکړې معمولي طاقت باندې تَکَبُّر کولو والا....!

| | |
|---|---|
| قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَاۤ اَكْفَرَهٗ ﴿۱۷﴾ مِنْ اَیِّ | **مفهوم ترجمه کنز الايمان:** انسان دِ مړ کړے شي، |

| | |
|---|---|
| شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿۱۸﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ ؕ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿۱۹﴾ (پاره30،سورۂعبس:17تا19) | خومره ناشكره دے، هغه ئې د څه څيز نه جوړ كړے دے، د اوبو د څاڅكي نه ئې پيدا كړے دے. |

**الله! الله!** چې د انسان دا حال دے نو د هغه غُرور و تكبر كول، ځان لوئي ګڼړل، اوچتې خبرې كول د هغه سره هيڅ كله نه ښائي، صرف يو څيز دے چې هغه د انسان سره ښائي او هغه دے عاجزي كول، د انسان د ټولو نه افضل و اعلیٰ حالت دا دے چې په سجده كښې ئې سر په زمكه ايښودے وي او **سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى** وائي، په مونږه لازم دي چې د **الله** پاك په بارګاه كښې سرونه ټيټ كړو او په ډيره عاجزۍ سره ژوند تير كړو دا حقيقي اوچت والے دے، په حديثِ پاك كښې ارشاد دے: ''**مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ**'' څوك چې د **الله** پاك د پاره عاجزي كوي، **الله** پاك هغه ته اوچت والے عطا كوي.**(1)**

**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته عاجزي رانصيب كړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

كه وباء خوره شي نو مونږ له څه كول پكار دي؟ راځئ چې په دې باره كښې يو څو مدني ګلونه واورو:

## (1) ډير زيات اِستِغفار كوئ

د وباء راتلو يو غټ سبب ګناه هم ده، **الله** پاك په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَاۤ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ (پاره25،سورۃالشوریٰ:30) | **مفهوم ترجمه كنز الايمان:** او تاسو ته چې كوم مصيبت در اورسيدو، هغه د هغې په سبب دے څه چې ستاسو لاسونو ګټلي دي. |

[1]... شُعَبُ الْاِيْمَان، حسن اخلاق كا باب، جلد:6، صفحه:276، حديث:8140۔

اللهُ اکبر! په دې موقع هم د **الله** پاك رحمت اوګورئ! ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۰﴾ (پارہ25، سورۃالشوریٰ:30) | **مفهوم ترجمه كنز الايمان:** او ډير څه خو مُعاف کړي. |

په څوارلسمه سيپاره، **سورۂنحل،** آيت نمبر61 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ (پارہ14، سورۃالنحل:61) | **مفهومِ ترجمه كنزالايمان:** او که الله خلق د هغوئي د په ظُلم نيولے نو په زمکه ګرځيدونکے به ئې يو هُم نه وے پريښودے. |

**اے عاشقانِ رسول!** توبه و استِغفار عبادت دے، مونږ له پکار دي چې په هر حال کښې د **الله** پاک نه مُعافـي غواړو، توبه اوکړو او خُدانخواسته که وباء خوره شي، آفتونه راشي نو بيا خو په کثرت سره توبه و اِستِغفار کول پکار دي ځکه چې د دې په برکت آفتونه ختميږي، د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام په قوم باندې يو ځل سخت قحط راغـے نو حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي ته د هغه قحط نه د خلاصي حاصلولو يوه بهترينه طريقه اوښودله حضرتِ سَيِّدُنا نُوح عَلَيْهِ السَّلَام چې څه فرمائيلي وو **الله** پاک هغه د يو کم ديرشمې سيپارے په سُوْرَۂ نُوح آيت نمبر 10 تا 12 کښې داسې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ﴿۱۰﴾ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ﴿۱۱﴾ وَّ يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ يَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴿۱۲﴾ (پارہ29، سورۃنوح:10تا12) | **مفهومِ ترجمه كنز الايمان:** د خپل ربّ نه مُعافي اوغواړئ بيشکه هغه ډير مُعاف کوونکے دے، په تاسو به تيز باران را اُووَرَوي او د مال او ځامنو په ذريعه به ستاسو مدد اوکړي او ستاسو د پاره به باغونه جوړ کړي او ستاسو د پاره به نهرونه جوړ کړي. |

مجھے سچی توبہ کی توفیق دے دے	پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی!

توفيق راکړې د رښتينې توبې ما ته پـه خاطِر د تاجدارِ حرم يا اِلٰهي!

## (2) د لمُونځ په ذريعه مدد اوغواړئ

د آفتونو، مصيبتونو او مشکلاتو په وخت کښې د لمُونځ په ذريعه د **الله** پاك نه مدد غوښتل پکار دي ځکه چې لمُونځ د نجات ذريعه ده. دويمه سيپاره **سُوْرَةُ الْبَقَرَه** آيت نمبر **153** کښې د **الله** پاك حکم دے:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ (پارہ2،سورۃالبقرہ:153) | **مفهوم ترجمه کنزالايمان:** اے ايمان والؤ! د صبر او لمَانځه په ذريعه مدد اوغواړئ بيشکه **الله** صبر کوونکو سره دے. |

**اے عاشقانِ رسول!** په مشکلاتو کښې د لمَانځه په ذريعه د **الله** پاك نه مدد غوښتل د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به چې کله هُم څه اهمه مُعامله پيښه شوه نو هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به لمُونځ ادا کولو، مونږ له هم په دې سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کول او ډير ثواب ګټل پکار دي.

## (3) په وباء کښې په کثرت دُعا کوئ

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَلدُّعَاءُ سَلَاحُ الْمُؤْمِنِ** دُعا د مُومِن وَسله ده. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** چې کله هم څه مشکل درپيښ شي، که وباء خوره شي که بيماري راشي، که طوفان راشي او که قحط راشي که زلزله راشي الغرض که

[1]...مسند اَبِيْ يَعْلٰی، مُسْنَدِ جابِر، جلد:2، صفحه:123، حديث:1812۔

هر قِسم مشکل راشي د دُعا والا وسله استعمالول هیڅ کله مه هیروئ او یاد لرئ! دُعا کول صرف د نیکو خلقو سره خاص نه دي، بلکه **الله** پاك د هر چا دُعا قبلوي، دُعا خو پخپله عبادت دے، حدیثِ پاك کښې دي: **اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ**[1] دُعا د عبادت مَغَز [یعني زَړے] دے. هر یو له دُعا کول پکار دي. په دُعا کښې د **الله** پاك په بارګاه کښې د نیکو خلقو وسیله وړاندې کوئ نو دُعا به مو زر قبلیږي. په یو حدیثِ پاك کښې راغلي دي: یو نابینا صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہ د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او بِینائي ئې اوغوښتله، غمخوار نبـي، رَسُولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته **صلٰوة حاجت** [یعني د حاجت لمُونځ] او دُعا زده کړه، هغوئي جمات ته لاړلو، لمُونځ ئې ادا کړو، دُعا ئې اوکړه، لږ ساعت پس ئې سترګې داسې روښانه شوې لکه کله چې هډو نابینا شوے نه وو.[2]

هغه لمُونځ او دُعا دا دي، واورئ! او په مشکلاتو کښې د لوستلو نیت اوکړئ: تازه اودس اوکړئ، دوه رکعته نفل ادا کړئ، د سلام نه پس داسې دُعا اوکړئ: **اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَیْکَ بِنَبِیِّنَا مُحَمَّدٍ** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ **نَبِیِّ الرَّحْمَةِ، یَارَسُوْلَ اللّٰهِ! اِنِّيْ اَتَوَجَّهُ بِکَ اِلٰی رَبِّيْ فَیَقْضِيْ حَاجَتِيْ** اے الله!زه ستا نه سُوال کووم او د خپل نبـي **محمد** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې نبئ رَحمت دے، د هغوئي په وسیله ستا طرف ته مُتَوَجِّه کیږم. یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه ستاسو په وسیله **الله** پاك طرف ته مُتَوَجِّه کیږم چې زما حاجت پورا کړي.[3]

---

[1]...ترمذی، کتابُ الدَّعْوَات، دعاکی فضیلت، صفحه:777، حدیث:3371۔

[2]... فضائلِ دُعا، صفحه:295بتغیر قلیل۔

[3]...ترمذی، باب(118)، صفحه:818، حدیث:3578۔

## (4) د وباء په دَوران کښې اَوراد او وَظائف لولئ

د وباء په وخت کښې د قرآنِ کريم ډير تلاوت کوئ، حديثِ پاك کښې دي: **خَيْرُ الدَّوَاءِ الْقُرْآن** يعني بهترين دارُو قرآن دے.[1] **سُورَةُ الْفَاتِحَه** لولئ چې څوك 100 ځله **سُوْرَةُ الْفَاتِحَه** اولولي او دُعا اوغواړي، قبوله به شي.[2] **سُورَةُ الدُّخَان** لوستلو سره مشکلات لرې کيږي.[3] **سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلُ** 11 ځله لوستلو سره هر مشکل آسانيږي.[4] **سُوْرَةُ الْقَارِعَه** لوستلو سره د بلاګانو نه حفاظت کيږي.[5] **سُوْرَةُ النُّوْح** لولئ چې دا وبائي مرضونو زغلولو کښې فائده مند دے.[6]

په کثرت سره دُرُودِ پاك لولئ چې دُرُودِ پاك د هر درد دوارو دي، د هر مشکل حل دے، دُرود شريف لوستلو سره شِفا نصيب کيږي، دُرود شريف لوستلو سره غمونه لرې کيږي، دغه شان د وباء په ورځو کښې اذان هم کوئ چې د دې سره وباګانې تښتي، په بهارِ شريعت کښې دي: د وبا په زمانه کښې اذان کول مُستحب (يعني شرعاً خوښ) دي. [7]

## (5) د غمژنو خلقو مدد اوکړئ

---

1…جامع صغير، صفحه: 245، حديث: 4007۔

2…جنتی زيور، صفحه: 587۔

3…جنتی زيور، صفحه: 596۔

4…جنتی زيور، صفحه: 600۔

5…جنتی زيور، صفحه: 603۔

6…کورونا وائرس اور ديگر وبائيں، صفحه: 28۔

7…بهار شريعت، جلد: 1، حصه: 3، ص466 بتغير۔

**خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو!** د پريشان حاله پريشاني لرې کول د ثواب کار دے، د وباګانو او آفتونو په وخت کښې نيك کار کول هيڅ کله مه هيروئ، د **اللّٰه** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائی: **اَللّٰهُ فِيْ عَوْنِ عَبْدِهٖ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ اَخِيْهِ** بنده چې ترڅو پورې د خپل مسلمان ورور مدد کوي، **اللّٰه** پاك د هغه مدد کوي. (1)

په احاديثو کښې د طاعون خوريدو په ورځو کښې، د طاعون نه تښتيدلو نه منع راغلې ده، د دې يو حِکمت **مُفسّرِ قرآن**، مفتی احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا بيان کړے دے چې: په وباء کښې اکثر خپل خپلوان او دوستان بيماريږي، د هغوئي نه تښتيدل نه دي پکار، که په داسې موقع صحتمندو ته د تښتيدلو اجازت ورکړے شي نو د بيمارانو خدمت به څوك کوي، دغسې خو به دا بيماران يقيناً په سخت تکليف سره مړه شي او کفن به ئې هم نصيب نه شي. ځکه هلته حصاريدل ډير د ثواب کار دے لکه د جِهاد په صف کښې حصاريدل. مُفتـي صاحب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نور فرمائي: ما پخپله ليدلي دي چې يو ځل په بَدايُون (هِند) کښې طاعون خور شو، د مسلمانانو جنازے به ډير په عِزَّت او احترام ورړلے شوې، لويه ګڼړه به ورسره روانه وه او مخکښې به ترينه نعت خواني کيدله، او غير مسلمه مړي به حکومت په ټرالو او ريړو کښې اچول او لرې به ئې غوزارول يا به ئې په زمکه کښې دغسې په کډه کښې واچول او خاورې به ئې پرې واړولې، ځکه چې د هغوئي صحت مند تښتيدلي وو او دوئي ئې دغسې پريښودي وو- د دې واقعې په وجه ډير غيرمسلمه مسلمانان شو. (2)

**خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د دِين په کار کښې مصروفِ عمل دے او **مَاشَآءَاللّٰه!** د بانئ

---

[1]...ابو داؤد، كتابُ الْاَدب، صفحه:775، حديث:4946۔

[2]...تفسير نعيمى، پاره1، سورة البقره، تحت الآية:59جلد:1، صفحه:517خلاصةً۔

دعوتِ اسلامي، اَميرِ اهلسنت حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د درد مند اُمَّت د خيرخواهۍ سوچ مرحبا! په 2005ء کښې زلزله راغلې وه په هغې کښې لکونه انسانان مړه شوي وو، پورا پورا کلي ختم شوي وو، ډير کورونه وران شوي وو، ډير خلق معذوره شوي وو، په دغه دوران کښې دعوتِ اسلامي د بے کوره شوو خلقو او د نورو بے وسه مسلمانانو زبردست امداد کړےوو، بيا د هغې نه څه موده پس چې سيلاب راغلے وو په هغې کښې هُم او اوس چې د کُرُونا په وجه غريب خلق په مشکلاتو کښې ګرفتار شو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي شُعبے **فيضان ګلوبل ريليف نډيشن** (FGRF) پکښې ډيره زياته حصه واخسته او د مسلمانانو خيرخواهي ئې اوکړه. د **لاك ډاؤن** په دوران کښې دعوتِ اسلامي اَلْحَمْدُ لِلّٰه لکونو خلقو ته مال (يعني نقد رقم) او طعام (د خوراك څښاك ضروري سامان) تقسيم کړو، چې د هغې مجموعي ماليت کروړونه روپۍ جوړيږي. دغسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي د دې شُعبے تر لاندې په تهيليسيميا او نورو مرضونو کښې اخته خلقو د مدد د پاره تر اوسه پورې په زرګاؤ د وينې بوتلې مختلفو اِدارو ته ورکړے شوي دي او تهيليسيميا فري پاکستان باندې کار جاري دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "هفته وار اجتماع"

**اے عاشقانِ رسول!** ستاسو دعوتِ اسلامي په مشکلو حالاتو کښې د کار کولو نه علاوه ټول کال په ديني کارونو کښې مصروفه وي، چې مشکل وخت راشي نو د خلقو خدمت کوي او په عامو حالاتو کښې د نيکۍ دعوت ورکولو سره جماتونه آبادوي، د سُنتو پيغام عام کوي او خلق دين ته د نِزدې کولو کوشش کوي. تاسو هم د دعوتِ

اسلامي مدني ماحول سره تړون اوکړئ او د ذِيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح په کوشش کولو کښې مصروفه شئ.

په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "هفته واره اجتماع" هم ده. په کومه کښې چې تاسو اوس شريك ئې، تاسو تلاوت، نعت واوريدلو، اوس د بيان سلسله جاري ده، د دې نه پس هفته وار اجتماع کښې مخصوص دُرودِ پاك لوستلے کيږي، ذِکر و دُعا به کيږي، بيا به اِنْ شَآءَاللّٰه د [سُنَّتو او آدابو] زده کولو او نورو ته ورزده کولو حلقے لګي او دغسې به دا علمي او روحاني فضا قائمه وي، که الله پاک ته منظوره وه نو په هفته وارو اجتماعاتو کښې د شرکت په سبب به زمونږ په زړونو کښې د ګناهونو نه نفرت او د نيکو کولو رغبت زياتيږي، نو نيت اوکړئ چې هره هفته وار اجتماع کښې به ېچپله هُم شريك کيږو او نورو ته به هُم د شرکت کولو دعوت ورکوو او ځان سره د راوستلو کوشش به کوو.

## د شرابي توبه

د يو اسلامي ورور بيان دے: زما اخلاق ډير خراب شوي وو، د شرابو څښلو عادت مې وو، د شرابو په محفل کښې او نورو فضولو کارونو کښې به مې خپل وخت بربادولو. د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامليدلو نه مخکښې ما ته خپل د تره ځوئ يو ځل د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو، زه په اجتماع کښې شريك شوم، په اجتماع کښې مې ايمان تازه کوونکي نظارے اوليدلې، چې د مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي بيان مې واوريدلو نو ماته خپل ګناهونه راياد شو، د اجتماع په آخِره کښې ټولو خلقو ډيره په عاجزئ او په ژړا فرياد د الله پاك نه د بخښني دُعاګانې کولې، چې د خوفِ خُدا په وجه د خلقو ژړاګانې مې واوريدلې نو زما سخت زړه هُم نرم شو او د سترګو نه مې

اوښكې رواني شوې، د زړه د اخلاصه توبه مې اوكړه او د سُنَّتو ډك ژوند تيرولو اراده مې اوكړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامل شوم، د دې ديني ماحول په بركت زه د بيشميره ديني معلوماتو نه خبر شوم او دُنياوي طور را ته هم فائدے نصيب شوې. زه د زنګونانو په سخت درد كښې اخته ووم، ډير پريشانه ووم، د دې تكليف نه نجات حاصلولو د پاره مې ډير علاجونه كړي وو او روحاني علاج مې هم جاري وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! [زما نيک ګمان دے چې د دعوتِ اسلامي د دِيني ماحول په بَرَكت ما ته ډير زر] په يو څو ورځو كښې د درد نه خلاصے نصيب شو.

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| شفائیں ملیں گی، بلائیں ٹلیں گی | یقیناً ہے برکت بھرا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي."(1)

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |
| سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا | جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا |

# مُسكي كيدل سُنَّت دي

1 ... ابنِ عساكر ج۹ ص۳٤۳

**دوه فرامِينِ مصطفٰی:** **(1)** ستا خپل مسلمان ورور ته مُسکي کيدل صدقه ده. [1] **(2)** **اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللّٰهِ** يعني قَهقَهه د شيطان له طرفه ده او مُسکي کيدل د **الله** پاک له طرفه دي.[2] د قهقهے نه مراد په دومره آواز خندل دي چې که په اوريدلو کښې څه رُکاوټ نه وي نو خوا ته کس ئې اوريدلے شي، شيطان دا خوښوي او په قهقهه لګوونکي باندې سوريږي او مُسکي کيدل د آواز نه بغير معمولي مقدار کښې خندا ده. [3] ياد لرئ چې! قهقهه لګول اګرچې د شيطان له طرفه ده، بده ده او سُنَّت هم نه ده خو بيا هم دا ګناه نه ده. بِالفرض که يو عالِم صاحب يا يو بُزُرګ مو په قهقهه لګولو اوليدلو نو د هغوئي د پاره په زړه کښې کله هُم غلط خيال مه راولئ. [4]

اے **عاشقانِ رسول!** مُسکي کيدل سُنَّت دي. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډير زيات مُسکي کيدلو، د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان داسې اقوال موجود دي چې مونږ کله هُم خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليدلے دے، نو مُسکے به وو. [5]

**اَميرِ اهلسُنَّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ **فرمائي:** ❁ مُسکي کيدل مړ زړه را ژوندے کوي،[6] ❁ د الله د رضا د پاره په مُسکا مُسکا ميلاويدل د آخِرت او مغفِرت د ثواب باعِث دي. [7] ❁ چا ته د نيکئ دعوت ورکولو وخت کښې مُسکي کيدلو سره عام طور د نيکئ دعوت ورکول ډير آسان کړي، ❁ ستاسو معمولي مُسکي کيدل د يو مسلمان زړه د

---

[1]...ترمذی، کِتاب: بِرّ وَالصِّلَة، صفحه:478، حدیث:1956۔

[2]...معجمِ صغیر، صفحه:713، حدیث:1057۔

[3]...فیض الْقَدِیر جلد:4، صفحه:706، تحت الحدیث:6196۔

[4]...نیکی کی دعوت، صفحه:249۔

[5]... مسند امام احمد، جلد:9صفحه:44، حدیث:22359۔

[6]...کب مسکرانا چاہیے؟، صفحه:2۔

[7]...نیکی کی دعوت، صفحه:248۔

ګناهونو نه اړولے شي او د هغه په ژوند کښې انقلاب راوستلے شي، ✿ خو د ملاقات په وخت کښې لاپرواهي او مخ اړولو، او لاس ميلاوولو وخت کښې اخوا ديخوا کتلو سره د چا زړه ماتيدے شي او په دې وجه هغه د ګمراهۍ کندې ته غورزيدے شي. ✿ لِـهذا چې کله هُم د چا سره ميلاويږئ او خبرې ورسره کوئ نو هغه وخت چې خومره کيدے شي مُسکې کيږئ. (1) يا **اللّٰه** پاکه! په خپل فضل و احسان سره، د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ته هُم ستا د رضا د پاره د مُسکې کيدلو په سُنَّت باندې د عمل کولو توفيق راکړې.

**صَــلُّــوْا عَــلَـى الْـحَــبِـيْــب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "*سُنّتیں اور آداب*" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے "**101 پهول**" او "**163 ګلونه**" هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

---

1 …نیکی کی دعوت، صفحہ:247246۔

الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۳۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

﴿1﴾ :

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵